## روژه او خلیفه، دواړه د مسلمانانو ډال او ساتونکي دي!

(ژباړه)

الله سبحانه وتعالی  پر مسلمانانو روژه فرض کړې چې متقیان شي؛ هغه سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ [بقره: ۱۸۳]

**ژباړه:** *«اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! پر تاسو روژه فرض شوې ده، لکه څرنگه چې پر هغو کسانو فرض شوې وه چې له تاسو څخه مخکې وو، تر څو پرهېزگاران شئ.»*

روژه له سترو عباداتو څخه ده؛ ځکه چې روژه نیوونکی په هر حالت کې ځان ته پام کوي او د تقوا جامې یې پر تن وي؛ دا پر نورو عباداتو د رمضان میاشتې او روژې فضیلت دی. هېڅ داسې عبادت نشته چې مسلمان دې په هغه کې تر روژې ډېر اخلاص ولري؛ خو باید روژه یې د ایمان له مخې او په اخرت کې د ثواب په هیله وي. الله سبحانه وتعالی د رمضان په سپېڅلې میاشت کې په اخلاص د دغې فریضې د ادا کولو لپاره له خپلو بنده‌گانو سره مرسته کړې. ابن ماجه او ابن حبان له ابو هریره څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ صُفِّدَتِ الشَّيَاطِينُ، وَمَرَدَةُ الْجِنِّ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ، فَلَمْ يُفْتَحْ مِنْهَا بَابٌ، وَفُتِحَتْ أَبْوَابُ الْجِنَانِ فَلَمْ يُغْلَقْ مِنها باب، وَ نَادَى مُنَادٍ يَا بَاغِی الخَيرِ أقبِل، وَ يَا بَاغِی الشَرِّ أقصِر، وَ لِلهِ عُتَقَاءُ مِنَ النَّارِ»

**ژباړه:** کله چې د رمضان لومړۍ شپه رارسېږي، شیطانان او د جنیاتو سرکشه مشران تړل کېږي؛ د جهنم دروازې تړل کېږي او د جنت دروازې پرانیستل کېږي (یعنې د گناه پرېښودو او ثواب ترلاسه کولو زمینه برابرېږي)؛ منادي غږ کوي چې اې د خیر غوښتونکیه! مخ راواړوه (ډېر نېک کارونه وکړه) او اې د شر غوښتونکیه! قصر وکړه (گناه پرېږده او توبه وکړه) او د الله لپاره د دوزخ له اوره خلاصون موندونکي دي.

له دغه حدیث څخه داسې تعبیرېږي چې الله سبحانه وتعالی د شیطانانو په تړلو او د جنیاتو په شړلو له خپلو بنده‌گانو سره مرسته کړې چې دا ستر عبادت وکړي او وروسته یې مومنانو ته د طاعاتو او عباداتو کولو او د منهیاتو پر پرېښودلو امر کړی؛ روژه یې د طاعاتو او عباداتو میاشت گرځولې ده چې په هغې کې د جنت دروازې خلاصېږي او د د دوزخ دروازې تړل کېږي او هر څوک چې په دغه میاشت کې طاعت او عبادت وکړي، الله سبحانه وتعالی یې د هڅو په اندازه اجر ډېروي. په قدسي حدیث کې راغلي:

«كُلُّ عَمل ابنَ آدَمَ لَهُ الِاَّ الصِيَام فَإِنَّهُ لِى وَ أنَا أَجزِى بِهِ، وَ الصِّيَامُ جُنَّة، وَ إذَا كَانَ يَومُ صَومِ أَحَدِكُم فَلَا يَرفَث وَ لاَ يَصخَب، فَإِن سَابَّهُ أَحَدٌ أَو قَاتَلَهُ فَليَقُل إِنِّى امرُؤٌ صَائِمٌ»

**ژباړه**: بني ادم چې هر عمل کوي، د ځان لپاره يې دی؛ خو روژه ماته ځانګړې ده او زه يې پخپله اجر ورکوم. روژه (د جهنم د اور پر وړاندې) ډال دی؛ نو که مو روژه وه همبستري مه کوئ، ناوړه خبرې مه کوئ او شور مه جوړوئ؛ که څوک له روژه لرونکي سره ښکېل شول او ناوړه خبرې يې ورته وکړې؛ په دې ځواب کې دې ورته ووايي: ما روژه نيولې.

د دې لپاره چې روژه لرونکی کس په دغه حالت کې پاک پاتې شي او ښکنځلو او شخړې پر لور کش نه شي، روژه به يې ډال وي. طبراني په معجم الاوسط کې له ابو هريره څخه روايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

«الصِيَامُ جُنَّةٌ مَا لَم يَخرِقهٌ. قِيلَ: وَ بِمَ يَخرِقُهُ؟ قَالَ: بِكَذِبٍ أَو غِيبَةٍ»

**ژباړه**: روژه ډال دی، تر هغې چې (روژه لرونکی) يې ونه شکوي؛ وويل شول چې په څه شي يې شکوي؟ ويې فرمايل: په درواغو او غيبت.

نو څوک چې روژه د ايمان او په آخرت کې د ثواب په هيله نيسي؛ داسې چې هغه د الله سبحانه وتعالی طاعت او اخلاص ته وهڅوي او کومه ځان ښودنه او ريا پکې نه وي؛ روژه يې قبليږي او تېر ګناهونه يې ښښل کېږي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«مَن صَامَ رَمضَانَ إيمَانًا وَ إحتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِهِ»

**ژباړه**: *«هر څوک چې د ايمان او اخلاص له مخې روژه ونيسي، تېر ګناهونه يې ښښل کېږي.»*

دا د الله سبحانه وتعالی فضل او رحمت دی چې د شرعي عذر لرونکي د رمضان د قيام پر مهال، د هغو روژه لرونکو له ثواب څخه برخمن کېږي چې د ايمان او اخلاص له مخې يې روژه نيولې وي.

په يوه حديث کې چې معاذ ابن جبل روايت کړی، راځي چې وايي: يوه ورځ له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په سفر وم، په داسې حال کې چې روان وو، هغه ته ورنږدې شوم او ومې ويل: اې رسول الله! ما له داسې يو عمل څخه خبر کړه چې جنت ته مې داخل او له دوزخ څخه مې لرې کړي؛ رسول الله صلی الله عليه وسلم يې په ځواب کې وفرمايل:

«لَقَدْ سَأَلْتَنِي عَنْ عَظِيمٍ وَإِنَّهُ لَيَسِيرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ؛ تَعبُدُ اللهَ وَ لَا تَشرِکُ بِهِ شَيئًا، وَ تُقِيمُ الصَلَاةَ، وَ تُؤتِي الزَّكَاةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ، وَ تَحُجُّ البَيتَ، ثُمَّ قَالَ: أَلَا أَدُلُّکَ عَلَى أبوَابِ الخَيرِ؟ الصَومُ جُنَّةٌ، وَ الصَّدَقَةُ تُطفِئُ الخَطِيئَةَ كَمَا يُطفِئُ المَاءُ النَّارَ»

**ژباړه:** واقعیت چې له ما څخه دې د یو لوی شي په اړه پوښتنه وکړه او پر هغه چا چې الله تعالی یې د ترسره کولو توفیق ورکړی وي اسانه دی: دا چې یوازې د الله عبادت وکړې او شریک ورسره ونه نیسئ؛ لمونځ وکړې، زکات ورکړې، د رمضان میاشتې روژه ونیسي؛ حج وکړې. (راوي وايي) بیا پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ایا د خیر دروازو ته دې لارښوونه ونه کړم؟ روژه ډال دی او صدقه ګناه له منځه وړي؛ لکه اوبه چې اور مړ کوي.

نو که د روژه لرونکی ټول بدن روژه وي؛ سترګې یې له نامحرم کس څخه لرې وي، غوږونه یې د لهو او لعب له اورېدلو څخه لرې وي، ژبه یې د الله سبحانه وتعالی له کلام پرته خبرو او ناحق خبرو پاکه وي، لاسونه یې د حرام مال له ترلاسه کولو او پښې یې له باطل او حرامې لارې څخه لنډې وي؛ نو په ریښتیا هم چې دا روژه ورته ډال ده او دا د متقیانو عمل دی چې له الله سبحانه وتعالی څخه تقوا کوي؛ حلالو ته یې حلال او حرامو ته یې حرام وايي او کتاب یې پر خپل ځان تطبیقوي او د هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه چې د صلاح او د امت د کار د ساتلو په اړه یې داسې فرمایلي دي، پیروي کوي:

«اِمَام جُنة يُقاتَل مِن وَرائِهِ وَ يُتَّقَى بِه»

**ژباړه:** امام هغه ډال دی چې تر شاه یې جګړه کوئ او هغه ته پناه وروړئ.

نو د داسې یو امام شتون چې تر شا یې له دښمن سره جګړه کوئ او د هغه په وسیله د دښمن له اذیت څخه سالم پاتې کېږئ، په حقیقت کې د امت لپاره ډال دی؛ لکه روژه چې د یو مسلمان کس لپاره ډال او ساتونکی دی. په دغه حدیث کې ټینګار پر دې دی چې د یو داسې مسلمان حاکم شتون چې د الله سبحانه وتعالی حلال، حلال او حرام یې حرام وګڼي، پر ما أنزل الله حکم وکړي او د مسلمانانو خاوره پاکه او صافه کړي، ارزښتونه او عزت یې وساتي او تر شا یې له دښمن سره جګړه وشي، واجب او لازم دی.

په پورتني حدیث کې په صراحت سره غوښتل شوي دي چې د امت لپاره باید یو امین او خیر غوښتونکی حاکم وي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعاً بَصِيراً﴾ [نساء: ۵۸]

**ژباړه:** *« الله تعالی تاسو مومنانو ته حکم کوي چې امانتونه د هغو اهل ته وسپارئ. کله چې د خلکو په منځ کې فیصله کوئ، نو په عدالت سره یې وکړئ، الله تعالی په دې سره تاسو ته لوی نصیحت کوي. په باوري توګه الله تعالی اوریدونکی او لیدونکی دی.»*

هو، خیر غوښتونکی حاکم او د امت ساتونکی؛ نه د اوسنیو فاسق او فاجر حکامو په څېر چې له ما أنزل الله پرته حکم کوي، د کفارو له قوانینو او شریعت څخه پیروي کوي او هغه حق خبره پرېږدي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې کوي.

**نو پر هر نارینه او ښځینه لازمه ده چې د داسې یو امام لپاره چې د امت ډال وي، له داسې کسانو سره چې د خلافت د تاسیس لپاره هڅې کوي، کار وکړي. څکه د امت زامن، په ځانګړې توګه پوځونه باید د الله سبحانه وتعالی د طاعت لپاره قاطعانه لاس په کار شي او د نبوت پر منهج د خلافت د اقامې عاملانو ته نصرت ورکړي او له خپلو تېرو تقصیرونو څخه الله سبحانه وتعالی ته رجوع وکړي!** الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُمْ مُبْصِرُونَ﴾ [اعراف: ۲۰۱]

**ژباړه:** *«په حقیقت کې چې څوک پرهېزګاران دي، د هغوی حال دا وي چې کله د شیطان له اغیزې څخه ناوړه مفکوره ورته پیدا کېږي، نو سمدلاسه متوجه کېږي او بیا په څرګنده توګهویني چې د هغوی لپاره سمه کړنلاره کومه یوه ده.»*

**لیکوال: استاد ناصر رضا محمد عثمان**

**ژباړن: محمد حامد**